هغه څوک به دوزخ ته داخل نشي چې د بدر او حدیبیې په پېښو کې یې ګډون کړی وي

له جابر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: "هغه څوک به دوزخ ته داخل نشي چې د بدر او حدیبیې په پېښو کې یې ګډون کړی وي".

[صحیح دی] [احمد روایت کړی دی او اصل یې په صحیح مسلم کې دی]

نبي خبر ورکوي چې هغه څوک به اور ته داخل نه شي چې د هجرت په دویم کال کې د بدر په جګړه کې د نبي سره د جنګ په نیت حاضر شوی وي، او نه هم هغه څوک چې د حدیبیې په سوله کې حاضر شوی وي، چې پکې د رضوان بیعت شوی و او دا د هجرت په شپږم کال کې ترسره شوې وه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11148